پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۰۲۱/۱۰/۱۳

# همدا یې وخت دی

*زه کوښښ کوم چې خپلې لیکنې ته پاروونکی اوعمومی عنوان ورنکړم چې لوستونکی یې له لیدو سره دستي په لوستلو پیل وکړي، خو ده ته مهمه نه وي، بلکې داسي عنوان غوره کوم چې یو لوستونکی یې له هماغه پیله په محتوا پوه شي، بیا یې خوښه چې لولي یې که نه؟ د دغي لیکنې عنوان(**همدا یې وخت دی** ) داسي غوره شو چې ممکن هرچا ته یې په لیدو دلوستلو تلوسه پیدا شی،بیانو ممکن یو شمیر لوستونکو ته به په زړه پوری نه وي. سره له دې هم زه فکر کوم که موضوع ته پاملرنه وکړو، ارزي.*

***

غنم زموږ د خلکو یوه مهمه خوراکی ماده ده. له بده مرغه تیر کال دغنمو حاصلات د وچکالی او جګړوله امله ډیر کم وو، نوځکه یې اوس ډیره قیمتی ده. د غلو- دانو؛ په مجوع کې دکرنیزو محصولاتو کمښت په تولنه نړی کی احساس کیږی. په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې سازمان (FAO)ټولو دولتونو ته خبر داری ورکړی دی چې د خپلو اتباعو د معیشت لپاره باید د کرنیزو محصولاتو ودې او غذایی مصئونیت/خوندیتوب( Food security ) ته لومړیتوب ورکړي. غذایی مصئونیت یواځې خلکو ته د خوراک رسیدل نه دي، بلکې ورسره د غذاکیفیت هم مهم دی. دغه اصطلاح په ۱۹٤٤ م. کال کې د FAO په یوه غونډه کې هغه حالت ته تعریف شوه ، چې هلته د خلکو لپاره دومره کافي اندازه خوراکي توکي وي چې دوی نه یوازې دا چې وږي پاتې نشي، بلکې د کیفیت له پلوه او د مربوطه تولنې د اجتماعي او کلتوري لحاظه هم مناسبه وي او خلک له رواني پلوه د خوراکي توکو د کمښت ویره ونه لري. دغه غذایي توکي باید دانرژی ، منرالونو، ویتامینونو او نشایستي له پلوه د بدن د ماشین د چلولو توان ولري. یعني غذایي مصئونیت یوازې د قطحي نشتوالی نه ، بلکې یو خلور بُعدي حالت دی، چې غذا باید له دغو څلورو بُعدونو خلکو ته مناسبه وي، چې هغه یې د ***کافي والي، مغذي والي، اجتماعي والي او له رواني پلوه ډاډه والي*** بُعدونه دي. له نیکه مرغه افغانستان کولای شی له دې پلوه خپل وګړي تامین کړي.

په پرمختیایی هیوادو کې یو وګړی ته په یوه ورځ کې په مشکل سره ۱۵۰۰کالوری (یعني دپرمختللو هیوادو په پرتله نیمایی)مهیا وي، دا په داسي حال کې چې دوی ته مهیا پروټین هم زیاتره حیوانی نه، بلکې نباتی وي. د مکفی غذا شپږ اجزا دا دي: کاربوهایدریت، غوړ(شحم)، پروتین، ویتامینونه. اوبه او منرالونه. بالعموم ژوندي موجودات ۲۰ ډوله امینو اسیدونو او ۳۰ ډوله نورو غذایي عناصرو ته اړتیا لري. دغه ترکیب هغه وخت چمتو کیدای شی چې انسان ته هرډول غذا لکه سابه، غوښه، میوه ، نشایسته یی غذایی مواد لکه وچه ډوډی ، وریجی او کچالو او مغزباب(جلغوزی، غوزان، بادام...) او لبنیات مهیا وي، خو غنم پکې ترټولو مهم دي. د افغانستان دخلکو د دسترخان کلچر کې غلی- داني ډیری دی، لکه غنم، وریجی او جوار. - غله جات او حبوبات د کاربوهایدریت غني سرچینې دي چې ۹۰ - تر ۹۹ ٪ کاربوهایدریت او پاتې غوړ او پروټین دي. دا د افغانی غذا ډیره برخه ده، خو دوی سابه او ترکاري لږ استعمالوی، البته هغو ته اړتیا د غلی په پرتله کمه ده یعنی کفایت کوی له ۳۰ - ٦٠ ٪ پروتین او پاتې غوړي او کاربوهایدریت له سبو څخه تامین شی، خو سابه منرالونه او ویتامیونونه لری. لبنیات او میوی له ۵۰ ٪ زیات پروتین او کاربوهایدریت لري.غوښه د ٦٠ - ۸۵ ٪ شاوخوا پروتین او پاتې غوړي او کاربوهایدریت لري، البته تر سرې غوښې (لکه غویی،


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید: info@arianafghanistan.com

پسه،سنډا او اوښ) سپینه غوښه (کب او چرګ) ډیر ګټور دی. هغه څه چي افغانانو ته لږ مهیا دی او توجه ورته نه کوی هغه میوې دی لکه خټکي، انار ، منې ، انګور او نور چی پوره ویټامینونه لری. همدارنګه د مېوو زړي لکه بادام، پسته، چارمغز، مميلی او نور ضروری منرالونه لري. افغانستان د مميلی د ارزانه تولید ښه امکان لری، چي پخوا به خوړیانو او نورو سیمو کی ډیر تولیدیدل، چي دا د پروتین د کمبود پوره کولو لپاره او د مغذی خوراک جز دی. لوبیا او نخود به مرکزی ولایاتو(لکه بامیان) کي تولیدیدل. لوبیا اونخود لکه دغوښي په شان د پروتین د پوره کولو او خوړو د غني کولو بډایه سرچینه ده چي تر ۳۵ ٪ پورې پروتین لري. په افغانستان کي د طبیب له مشورې پرته، کاربوهایدرېټ لرونکي خواړه زيات کارول کيږي، خو حیواني غوړ، لبنیات او نور پروتین لرونکي خواړه کم کاروي، نو ځکه مو هیوادوال زیاتره وخت د پروتین، ویټامینونو او منرالونو له کمبود سره مخامخ کیږي.

د افغانستان خوراکی کلچر(ددسترخان عنعني) او عاداتو ته په کتني سره، غنم یو مهم غذایی توکی دی. د واویلوف د څیړنو له مخي د غنمو اصلی منشا د اوسنی افغانستان له زمکو څخه ده او بیلابیل جینسونه او ورایتی يي پیژنو. له نیکه مرغه افغانستان د کافی زمکو او اوبو لرونکی هیواد هم دی چي ډیر آسانه **per capita food production**(د سړي سر غذایي تولیدات) پکي اوچتیدای شی. دلته دغنمو سړی سره تولید( **Per capita product**) هغه منځنی اندازه غنم(غذايي تولید) بولو چي یو تن ته رسیږي. دا دیرمختیایي هېوادو لپاره یو مهم شاخص دی. له بلې خوا ګورو چي موږ،کوچنی ځمکوال (**Small holding** ) لرو، لوی فارمونه نشته. بزګران موکوچنی کروندي لري او دغه ډول کروندګر په محدوده اندازه تولید لري، د دوی لپاره د ترویجي خدماتو رسول او په سیمه کي د کرنیزوکوپراتیفونو(چي عربی ملکونو، ایران او نورو اسلامی هیوادو کي ورته تعاونی وایی) جوړول، د دوی په ژوند او تولیداتو کي د ښه والي لپاره اړین ګامونه دي. دا هغه وخت امکان لري چي لکه د پخوا په شان دکال دوه کمپاینونه ولرو: یو د مني د کښت کمپاین(کمپاین کشت خزانی) او بل د پسرلی. د منی د کښت د کمپاین همدا وخت دی. موږ غنم د عقرب(لړم) له نیمایی د لیندی تر نیمایی کرو. دغه کمپاین ته دتلي مياشت کی پلان جوړیږی. نو کمپاین څه شی دی؟

کمپاین **campaign** یو مهم ترویجی فعالیت دی ، موخه ورڅخه د کرنیز فعالیت، د کښت او کار پر مهال هغه منډی تړی او پرلپسی پروګرامونه دی چي د یوه ځانګړی هدف په خاطر ټول بشری او مادی امکانات او وسایل سمبال او کار ورڅخه اخیستل کیږی. په دې کي راډیو، تلویزیون، بروشرونه، **wall slogans** دترویج کلیوالی مامورین **(extension rural agents)** او ساحوی دفترونه ټول یو ځایی کار پیل کوی او پایله یی کرونده کي ترسترګو کيږي.

هغه وخت چي موږ په افغانستان کي د تخصص سالاری نظام (**adhocracy**)درلود، په کال کي مو دوه ځله کرنیز کمپاین درلود، دمني د کښت کمپاین کي به ډیره پاملرنه دغنمو کښت ته وه چي ډیره غوره پایله یي لرله. د دې کمپاین په پایله کی به بزګرانو انګیزه او لازمه بنوونه ترلاسه او للمی او آبی کښت به یی پیل کړ. هغه وخت مو د غیر شرعی اومضره بوټو(کوکنارو) مشکل ندرلود، ټول کښت مو مفیده نباتات وو. د کرنې د وزارت د تبلیغ- ترویج-آموزش اوتوسعي ریاست به د خپلو غونډو او سیمنارونو په تالار(دکرني د وزارت د اوسنی اداری ریاست څخه لرېورته) کي د کابل ولایت د ولسوالیو د بزګرانو، د تبلیغ- ترویج او توسعي د ریاست د کارکوونکو، د راډیو تلویزیون د کرنی ( کلی- کور اوکرونده) برنامې مسئولینو، دFAO خوتنو میلمنو،د کرنې د پوهنځی استادانو او نورو رابلل شویو میلمنو ګډون درلود. په ټول هیواد کی به د غنمو کښت پیل شو. دې پسي به ولایاتو کي کمپاین شروع شو. دا وخت به دسمستر نیمایی وه او موږ به کوښښ کاوشاګردانو ته په همدې اړه کورنی دندې، صنفی بحثونه او له خپلو کلیو په دې اړه راپور دندې وسپارو. په وروسیتو کلونو کی ( ***Darulaman-14***) ورایتي ډیره مشهوره شوه چي د کرني وزارت وروسته ترڅو متوازنو تجربی تکرارونو او ترتمنتونو ترلاسه کړی وه اوله(L. (maxipak *Triticum aestivum* او( Larmarho) سره يي سیالی کوله. دغه ورایتي د کابل او دهیواد دمرکزی سیمو اقلیم سره ښه توافق درلود. دلوړ حاصل غنمو علمی تجربی هلمند او ننګرهار کي ترسره شوی. دهغه وخت دولت پلان درلود چي افغانستان دغنمو له پلوه خودکفا شی. دا آرمان بالکل د تحقق وړو. ان شاالله اوس هم د تحقق وړ دی. وروسته بیا سویډن کمیټي هم تر۱۹۸۹م. څه ناڅه دې برخوکی کار وکړ.

عرض دا دی چي غنم زموږ مهم غذایی توکی دی. اوس چي امنیتی او د جګړی ستونزی هم نشته، او راتلونکی کي د قحط او غذایی عدم مصئونیت ګواښ سره هم مخامخ یاستو، **نو همدا يي وخت دی** . سږکال باید (یوه لویشت زمکه بی کښته نه پریږدو!) تر عنوان او سلوګان لاندې، دا کمپاین پیل او پلی کړو.

موږ شکرالحمدلله له جاپان، څخه زیاته دکښت وړ زمکه او تر ایران اوکویټ زیاتې خوړي اوبه او سیندونه( **fresh water**) لرو، د اسرائیلو په مقایسه د غنمو د تولید زیات امکانات لرو، له هنګ ګانګ نه هم ښه یو، تر اردن څخه ډېر مهم ستراتژیک موقعیت، له طبیعی مزایاوو خالی سینګاپور څخه ښدای طبیعت، دسعودی په پرتله سمسور او دطراوت لرونکی چاپیریال، د سړي کاناډا او سایبریا په مقایسه ډېر مساعد اقلیم. ... لنډه داچې د ډېرو هیوادو او سیمو په پرتله عالی امکانات لرو، نو بیا ولي وږي یو؟

مهمه دا ده چې چوکاټونه جوړ کړو. د چوکاټ جوړلو او ځانته د ډوډی برابرولو لپاره یو اقدام کرنیز کمپاین دی. خامخا به غنم کرو، چیری چې اوبه نه لرو، هلته یې للمی کرو.

للمی کرنه ( **dry farming**) هغه ځمکي چې داوبو ثابته منبع ( ویاله ، سیند،چینه ، کاریز ) ونه لري، د باران په تمه کرل کېږي. یو شمېر آسیایي او افریقایي پرمختیایي هېوادونو کې بې اوبوځمکې د للمي په بڼه کرل کېږي. یو شمېر نورو هېوادو کې له ډېرو لرې ځایونو اوبه ورته راوړل کېږي، او ځینې وخت د اورښت پرمهال اوبه زیرمه کېږي او د اوړي په ورځو کې ورڅخه کار اخلي. لنډه دا چې په ټولو موسمونو کې د اوبوله ثابتې منبع پرته کرنه للمي بلل کېږي. افغانستان د کافي اندازه سیندونو او د اوبو د میلیاردونو مکعب مترو په جریان سره آبی کرنې لري ، خو ځینو ځایو کې للمی کرنې ته اړ دی. غنم د جنت هغه ښکلی میوه ده چې للمی ډول باندی هم حاصل ورکوي.

اوس چې اسلامی امارت چارې تر لاسه کړی، نو دوی کولای شی د اسلامی ارشاداتو په رڼا کې دې مهم اقدام باندې لاس پورې کړي. د اسلام سپیڅلی دین یو جامع دین دی، چې د ژوند دټولو چارو سمبالوونکی او د انسانی فطری اړتیاوو ځواب ویوونکی دی. په دغه دین کې ټول دنیوی او اخروی مسایل روښانه او په اړه یې بشریت ته لارښوونې شوي دي. الله پاک عز وجل فرمایلي دي چې ای زما بنده ګانو! غرونه، ورېځې، اوبه، دښتې او چمنونه ټول ستاسی د استفادی لپاره دي چې ورباندی کار وکړئ او حلال رزق ترلاسه کړئ. کښت اوپه باغونو کې کار اوفلاحت یوه ډیره آبرومنده پیشه ده چې ډیرو پیغمبرانو؛ له حضرت یوسف (ع) نیولی بیا زموږ تر خوږ نبی(ص) پورې په کښت، دهقانی ، چوپانی او کار کولو باندې تاکید کړی او آن په دی چارو کی دوی خپله هم بوخت پاتې شو ی وو.

الله پاک فرمایی: هو أنشأكم من الأرض و استعمركم فيها...

یعنی: خدای پاک تاسی له خاوری پیدا کړی یاست نو د هغی په آبادولومامور یاست.

په تفسیر کی یی راغلی چی تاسو ته امر شوی چی پر زمکه کور آباد کړی، کښت وکړئ، ونی کینوئ نو همدا آبادی ده. په یو قوی حدیث کې راځي: قال النّبيّ (ص): ما من مسلم يغرس غرساً و يزرع زرعاً، فيأكل منه انسان أو طير أو بهيمة، الّا كانت له به صدقة.

یعنی: هرهغه مسلمان چې کښت کوی او بیا انسان یا پرنده یا چرنده د ده له کښت خوراک وکړي، نو ده ته صدقه محسوب شوه. بل ځای فرمایی: من غرس غرساً فأثمر، أعطاه الله من الأجر قدر ما يخرج من الثّمر.

دی برخه کې علی کرم الله وجه ویلی و:

**مَنْ وَجَدَ مَاءً وَ تُرَاباً ثُمَّ افْتَقَرَ فَأَبْعَدَهُ اللَّهُ** . یعنی: هغه خلک چی هم اوبه او هم خاوره لری او بیا هم وږی وی، د خدای له رحمته بی برخي کیږی، فقر ته په اسلام کی ښه نه کتل کیږی، بلکی توانمند لاس تر ناتوانه څخه ستایل شوی دی؛ له همدې امله مالداران، چوپانان او دهقانان دپاملرنی وړ دی . دکرنی توسعه باندی تاکید شوی او د (فلاحت) معنا لرونکی کلمه ورته کارول شوی ده. د انسان ژوند او روغتیا ته توجه د نورو ادیانو په پرتله د اسلام برتری ښیي. زموږ دمذهبی رهبرانو دحکمته څخه ډکو لارښودونو ښیګنه همدا ده چې موږ ته یې دفلاحت لار ښودلی ده، خو په دی شرط چې موږ ورباندی عمل وکړو. الله پاک زمکه خاوره او اوبه موږ ته مسځر کړی او د هغی د آبادي امر یی کړی او باید زمکه دخپلی کټي لپاره آباده کړو.

د الله پاک ستر پیامبر حضرت محمد(ص) څخه پوښتنه وشوه: کوم مال بهتر دی؟ ویې فرمایل: هغه زراعت چې خاوند یې کرلی وی او اصلاح اوپالنه یی کړی وی او د رمند کولو په ورځ یې د هغه حق یعنی (زکات) ورکړي. بیا پوښتنه وشوه: وروسته تر کښت او زراعت بل کوم مال بهتر دی؟ ویې فرمایل: هغه څوک چې پسونه پیایی او رمې ورشوګانو ته بیایی او هلته لمونځ کوی او بیا د خپلې رمې زکات ورکوی. بیا ورڅخه پوښتنه وشوه: له پسونو روزنی وروسته بل کوم څاروی روزنه غوره ده ؟ و یې فرمایل: غواوې روزنه چې سهار او ماښام شیدی کوي. او بله پوښتنه وشوه:

دغواګانو تر روزنی وروسته بل کوم کار غوره دی؟ ویی فرمایل: د کجورو یا خرما ونې روزنه چی ریښې یې په خارو کی دی او په ډیره وچکالی کی هم حاصلات ورکوی. دخرما ونه یو ښه نعمت دی ، که کجوری وپلورل شی غوره ګټه کوی، او چې ونی زړی شی، نو نوری ونی به کینوی.

کښت او ښوالی زموږ د خودکفائي لپاره او د کفارو څخه د استغنا په خاطر ضرور ده . مالداري او زراعت، نه یواځې د اقتصادي استقلال ضامن ده بلکی د سیاسی استقلال ضمانت هم کوی اوصحت او توانایی مو هم ورپوری مربوط ده. په همدی خاطر د کلیوالو خلکو ژوند، غرور او روغتیا تر ښاری خلکو ښه ده. هغوی د زړه تسکین لری، خو ښاریان تل پریشان او وارخطا وی. کلیوال تل خپلو څاریو او ښونو ته خوښ او روحاً راضی وی. اوس ثابته شوه چې کښت او زراعت زموږ دفلاحت یوه دنیایی وسیله و عالم اسباب کې یوه ذریعه ده چې ژوند مو وربانديې جوړیږی او د آخرت توښه برابرولای شو. نو **همدا یې وخت دی** چې دغنمو دکښت کمپاین پیل کړو. دکرنې د وزارت او FAOتوجه دې ټکي ته جلبوو. نور نو د خپل پتمن ولس فقر نشو زغملای.



برای مطالب دیگر پوهاند محمد بشیر دودیال روی عکس کلیک کنید